بسم الله الرحمن الرحيم

په نامه د هغه خدای
مي دا بيان دي

۳۸۶

# د خېړنې مرستيالي


| | |
|---|---|
| سرشناسه: | طبسی، نجم‌الدین، ۱۳۳۴ |
| عنوان قراردادی: | روافد الایمان الی عقائد الاسلام. پشتو |
| عنوان و نام پدیدآور: | وهابی نظریو ته عقلی کتنه/ لیکوال نجم‌الدین طبسی؛ ژبارونکی محمدرحیم درانی. |
| مشخصات نشر: | قم: مرکز بین‌المللی ترجمه و نشرالمصطفی صلی الله علیه و آله، ۱۳۹۱. |
| مشخصات ظاهری: | ۲۸۸ص. |
| شابک: | ۹۷۸-۹۶۴-۱۹۵-۶۳۴-۱ |
| وضعیت فهرست نویسی: | فیپا |
| یادداشت: | پشتو. |
| یادداشت: | متن حاضر ترجمه کتاب «رویکرد عقلانی بر باورهای وهابیت» است که خود از زبان عربی تحت عنوان «روافدالایمان الی‌عقائدالاسلام» به فارسی ترجمه شده است. |
| موضوع: | وهابیه، شیعه -- دفاعیه‌ها و ردیه‌ها |
| موضوع: | وهابیه -- عقاید |
| شناسه افزوده: | درانی، محمدرحیم، مترجم |
| شناسه افزوده: | جامعة المصطفی صلی الله علیه و آله العالمیه. مرکز بین‌المللی ترجمه و نشر المصطفی صلی الله علیه و آله |
| رده بندی کنگره: | BP۲۰۷/۶/ط۲ر۹۰۴۹ ۱۳۹۱ |
| رده بندی دیویی: | ۲۹۷/۴۱۶ |
| شماره کتابشناسی ملی: | ۲۸۰۴۹۴۶ |

# وهابي نظريو ته عقلي کتنه

استاد محقق حاج شيخ
نجم‌الدين طبسي

ژباړونکی:
محمدرحيم دراني

«المصطفی» د ترجمې
او خپرندويه نړيوال مرکز

وهابي نظريو ته عقلي کتنه
ليکوال: استاد محقق حاج شيخ نجم الدين طبسي
ژباړونکی: محمدرحيم دراني
تصحيح کوونکی: عبدالرحيم دراني
چاپ لومړی: ۱۳۹۱لمريځ / ۱۴۳۳ق
خپرونکی: د المصطفیﷺ نړيوال د ژباړې او خپرونې مرکز
چاپ: توحيد ● بيه: ۲۰۰۰۰ ريال ● تعداد: ۱۰۰۰

د چاپ حق د خپرونکی لپاره محفوظ دي.

د خرڅ ځای:

- قم، معلم لويديځ، سړک، (حجتيه) ټيليفکس ۰۲۵۱.۷۸۳۹۳۰۵.۹
- قم، محمد امين روډ، سالاريه درې لارې، ټيلفون: ۰۲۵۱.۲۱۳۳۱۰۲ - فېکس: ۰۲۵۱.۲۱۳۳۱۴۶
- تهران، د انقلاب سړک، د وصال شيرازي او قدس د سړکونو ترمېنځ، د اسکو کوڅې په سر کښې مکان نمبر ۱۰۰۳ ، ټيلفون: ۰۲۱.۲۲۹۷۸۹۲۰
- اصفهان، د سيد جومات سړک، ايت الله زاهد سړک سره نژدې، ټيلفون: ۰۹۱۳۳۰۰۵۷۵۴
- مشهد، د امام رضا سړک، ختيځ دانش سړک، د دانش ۱۵ او ۱۷ ترمېنځ، ټيلفون: ۰۵۱۱.۸۵۴۳۰۵۹

له هغو کارپوهانو څخه مننه چې له مونږ سره يې د اثر په تيارولو کښې مرسته وکړه

# د ژباړونکي سريزه

دې ته په پام سره چې عقيده يوه علمي چاره ده که اصول او مقدمات يې د انسان په زړهٔ کښې ځاے پيدا کړي نو عقيده هم تحقق پيدا کوي او که داسې و نهٔ شي نو په زور په چا باندې عقيده نهٔ شي تپل کېدی. د انسان افکار په برهان او دليل باندې ودرېږي نو نه خو پخپله انسان يوه عقيده په ځان په زور منلې شي او نهٔ يې پرې نور کسان تپلې شي. ځينې وختونه د هغو کسانو لخوا چې ځانونو ته د خداے د ګران رسولﷺ د سنتو لارويان وائي او دې ته تيار نهٔ وي چې نورو ته اهلسنت ووائي خا مخا دا تبليغ کوي چې اسلام د تورې په زور باندې پرمختګ او ترقي کړې ده او په دې وجه چې خپل عقائد حق ګڼي نو د دغو عقائدو د رائجولو لپاره يې د زور (او تورې) له منطقه کار اخېستےاو هغه څه يې کړې چې زړه يې غوښتل.[1] که د دوي تاريخ ته لږه کتنه وکړو نو دې خبرې ته پام اوړي چې د اسلام پرمختګ په برهان او استدلال سره ؤ. ځکه چې د خداے ګران رسولﷺ او د هغه حضرتﷺ ملګرو چې ديارلس کاله په مکه کښې وو زيات دباوونه او تکليفونه وزغمل او په دغه موده کښې د مکې او خواوشا سيمو يو شمېر کسان مسلمانان شول او يو شمېر نور هم چې له مدينې څخه به د حج په مراسمو کښې د هغه حضرت خدمت ته حاضرېدل د اسلام د صحيح دعوت او تبليغ په بنياد اسلام

---

۱. د لا زياتو معلوماتو لپاره کشف الارتبات في اتباع محمد بن عبدالوهاب کتاب ته مراجعه وکړئ.

قبول كړ.[۱] د عقيدې ازادي د قرآن شريف په نظر كښې لوے ارزښت لري او لـه درې سوو نـه پـه زياتو مبـاركو ايتونـو كښې يې ذكر شوے دے. خدا ے پـاک د قـرآن شريف نزول د تعقل او تدبر د هدف لپاره معرفي كوي او فرمائي:

﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيـا لَّعَلَّكُـمْ تَعْقِلُـونَ﴾[۲] «مونږ خپـل دا كتـاب د عربـۍ د قرآن په صورت كښې نازل كړ چې كېدى شي تاسو له عقل نه كار واخلئ» يا دا چې فرمائي: ﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيكَ مُبَارَكٌ لِيدَّبَّرُوا آياتِهِ وَلِيتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾[۳]

په يو بل ايت كښې بې تدبره كسان داسې غندي: ﴿أَفَلَا يتَدَبَّرُونَ الْقُـرْآنَ أَمْ عَلَي قُلُـوبٍ أَقْفَالُهَـا﴾[۴] دا اهميت تر دې حده دے چې قـرآن شريف انسانان د حريت او ازادۍ د سېمبول په لور رابولي چې لمونځ ورته وكړي او زيـاتره ارزښـتناک كارونـه پـه دغـه لـور تـر سره كړي. دغـه سېمبول «كعبـه» ده چې ورتـه «ببت العتيـق» ويـل كيږي. كعبه د يوې عتيقې، لرغونې، ارزښتناكې او مخينه لرونكې ودانۍ او هم د يو داسې كور په توګه معرفي شوې ده چې د هيڅ چا تر تسلط او ملكيت لاندې نۀ ده پاتې شوې او پـه ټول تـاريخ كښې د طاغوتيـانو لـه تيري او لوټمـار نـه پـه امـان كښې پاتې ده او د يو كس، يوې ډلې يا يو حكومت لـه تعلق نـه ازاده وه، ده او وي به: ﴿وَلْيطَّوَّفُوا بِالْبَيتِ الْعَتِيقِ﴾[۵] او ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَي الْبَيتِ الْعَتِيقِ﴾[۶] ځينو ويلي دي چې دا نوم يې په دې وجه دے چې كعبه شريفه لرغونتوب لري او ډېره پخوانۍ ده، خو امـام محمـد بـاقرعليه السلام پـه دې حقلـه فرمـائيلې دي: «كعبـه دازادۍ كـور دے چـې هيڅكله د چا نۀ ؤ او نۀ دے» «لانه بيت حر عتيق من الناس ولم يملكـه احـدا»[۷] د انسان زياتره چارې د ازادۍ لـه دې سېمبول سره تعلق لـري او ځينـې ارزښـتناكې چارې لكه لمونځ پكار دي د بيت العتيق په لوري ادا شي. ځينې نور اعمال لكه د

---

۱. الميزان ۲ توک ۸۹ مخ.
۲. سورۀ يوسف ۲ ايت.
۳. سورۀ ص ۲۹ ايت.
۴. سورۀ محمد ۲۴ ايت.
۵. سورۀ حج ۲۹ ايت.
۶. سورۀ حج ۳۳ ايت.
۷. بحارالانوار ۹۹ ټوک ۵۸ مخ.

قرآن شریف تلاوت ښه ده چې د دغه عظیم کور په لور وشي. په اپوته بیا ځینې کارونه د دې په لور حرام ګڼلې شوي دي. نو بس مسلمانان د خپل ژوند په دوران کښې د ازادۍ له دغه کور سره ډېر نزدې تعلق لري او حتی له دنیا نه د رخصتېدو په وخت هم پکار دي د انسان مخ د دغه کور لوري ته وي.

«بیت العتیق» ته پاملرنه په دې معنا ده چې انسان پکار دي تل له خپل ازاد ژوند څخه حفاظت وکړي او هیڅکله دغه اسماني ازادي د پوچو او متحجرو افکارو قرباني نه کړي: ﴿فَبَشِّرْ عِبَادِي * الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ﴾.[1]

نو ایا اوس د ازادۍ د دې سېمبول ترڅنګه د عقیدې څرګندونه کولې شو؟ ایا یو داسې ګډ مرکز چې د ټولو مسلمانانو د نظر د تبادلې محور وي وجود لري؟ ایا ټول له لرېو او نزدېو سیمو څخه د دې کور په خوا کښې راغونډېدې شي او خپل علمي او عملي مسائل او سیاسي او اجتماعي مشکلات دغلته بیانولې شي؟ د دغو پوښتنو ځواب په کامله توګه منفي دے، ځکه چې د وهابیت د ثقافت او کلتور بنیاد او اساس د اسلامي فرقو کافر ګرځول، د اسلامي تعلیماتو په بدرنګ، زیږ او متحجرانه شکل کښې وړاندې کول، له دین څخه غېر عقلاني دفاع کول او د خدا ے د ګران رسولﷺ د اثارو له منځه وړل دي. ایا داسې یو مذهب او نظریه د عقائدو او نظریاتو له ازادۍ سره څه تعلق لري او ایا په اصل کښې ازاد فکر لري؟ هغه څه چې په حجاز کښې انسان ته ډالۍ کیږي «د شرک تهمت» دے او زیاته د حېرانۍ خبره دا ده چې د داسې ډلې کسانو ځانته د «اهلسنت» نوم ورکړے دے او دې ته تیار نۀ دي چې اشاعره ته اهلسنت ووائي معتزله او شیعه خو لا پرېږده، په داسې حال کښې چې د دغو ټولو ډلو ترمېنځ د پېغمبر اکرمﷺ سنت محترم دے او د خدا ے پاک له کتاب نه پس سنت د مسلمانانو لپاره دویم مرجع دے. د دوي له نظره د اسلامي دنیا یوازینے مشکل بس «شیعه» دے او د شیعهؤ د ختمولو لپاره د دنیا له ټولو جبارانو او مستکبرانو حتی اسرائیلو سره د دوستۍ معاهدې کوي او د تېلو په پېسو باندې د خدا ے د ګران رسولﷺ د پاکو اهلبېتوعليهم السلام او د هغوي د مینه والو او پېروي

---

۱. سورۀ زمر ۱۷ او ۱۸ ایتونه

کوونکو ديني عالمانو په هکله له سپکاويو ډک په لکونو کتابونه د شيعه ؤ په خلاف چاپوي او خپروي يې: ﴿مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَاراً فَلَمَّا أَضَاءتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لاَّ يُبْصِرُونَ﴾[1] د بيت الله د ودانۍ هدف له شرک نه يو پاک توحيد ته رسېدل دي او خالص توحيد ته د رسېدو لار له هر ډول شرک او الحاد څخه په کامله توګه بيزاري او له هر قسمه مشرکانو او ملحدانو څخه د کرکې څرګندونه ده او دا هدف بې له دې نۀ شي تر لاسه کېدی چې په ګډه له هغوي څخه د برائت او بېزارۍ څرګندونه وشي چې د دې کار لپاره تر ټولو مناسب ځاے د خداے پاک کور کعبه شريفه ده. همدا ځاے دے چې دغه چغې پکښې اوچتېدې، د اسلام قوت دنيا ته ښودل کېدی، د «مړه دې وي امريکا» او «مړه دې وي اسرائيل» نعرې وهل کېدی او د مجرمې امريکې او د هغې د انډيوالانو او حاميانو له مخ نه د مکر او فرېب نقاب لرې کېدی شي.

په اخر کښې مروان بن حکم ته د جليل القدر صحابي حضرت ابو ايوب انصاري په خطاب مشتمل يو روايت نقلوو. داؤد بن صالح (رض) وائي: «يوه ورځ مروان بن حکم يو سړے وليد چې خپل سر او مخ يې د خداے د ګران رسولﷺ په قبر مبارک باندې اېښے و. مروان ورته ووېل: ايا پوهېږې چې دا څه کار کوې؟ دغه سړے چې حضرت ابو ايوب انصاري (رض) ؤ مروان ته يې مخ کړ او ورته يې ووېل: هو، زۀ د خداے د ګران رسولﷺ خدمت ته حاضر شوے يم نه د يو کاڼي خدمت ته. حضرت ابو ايوب انصاري (رض) ووېل: د خداے له ګران رسولﷺ څخه مې اورېدلي دي چې فرمايل يې: «لا تبکوا على الدين اذا وليه اهله و لکن ابکوا عليه اذاوليه غير اهله» کله چې د دين متولي د دين لرونکی وي نو د دين لپاره ژړا مۀ کوئ خو چې کله د ين متولي د دين خاوند نۀ وي نو د دين لپاره ژړا وکړئ.»[2] د حضرت ابو ايوب انصاري (رض) په خبرو کښې يوه ښکلې معنا

---

۱. سورۀ بقره ۱۷ ايت.

۲. مستدرک حاکم ۴ ټوک ۵۲۰ مخ، الغدير ۵ ټوک ۱۴۸ مخ، ذهبي په تلخيص دا روايت صحيح بللے دے، مسند احمد بن حنبل ۵ ټوک، شفاء السقام تقي الدين السبکي، وفاء الوفاء سمهودي، ۳ ټوک ۴۱۰ - ۴۴۳ مخونه او په بل چاپ کښې ۴ ټوک ۱۳۵۹ مخ، مجمع الزوائد ۴ ټوک ۲ مخ، البيان علامه خوئي ۵۸۸ مخ، اخبار المدينه لابي الحسن الحسيني، التبرک ۱۴۷ مخ.